

**مطبوعاتي اعلاميه**

**د قرغيزستان د پارلمان اتيايمه كليزه**

**(ژباړه)**

د 2018م د دسمبر په 21مه د قرغيزستان د پارلمان د اتيايمې كليزې په مناسبت په بشكېك ښار كې كنفرانس جوړ شو. په دغه كنفرانس كې ولسمشر، د دولت مخكيني رهبران او ټولنيزو فعالانو ګډون درلود. دا كنفرانس د ډموكراتيكو مسايلو پر پراختيا، د پارلمان ځواكمنتيا او د دغه هېواد د اساسي قانون په اصلاح راڅرخېده. په دې كنفرانس كې د ګډون كوونكو د خبرو پر اساس، قرغيزستان يوازې د يادو مسايلو د ستونزو د حل په وسيله پرمختګ كولى شي. سره له دې چې د قرغيزستان 80سلنه وګړي مسلمانان دي، خو د دغه كنفرانس ګډون كوونكو د پراختيا او پرمختيا په مسايلو كې د اسلام له نظره هېڅ هم ونه ويل.

د هېچا له سترګو پټه نه ده، چې قرغيزستان په 1991م كې د پخواني جماهير شوروي اتحاديې له ويجاړېدو وروسته تش په نامه خپلواكي تر لاسه كړه. په دغه هېواد كې د سوسياليزم د راپرځېدو او د پانګوالۍ نظام په راتلو سره، اوس د جمهوري قرغيز پارلمان د يوه حماسي پارلمان په نامه ياديږي. كله چې د قرغيزستان نظام د پانګوالۍ ډموكراتيک نظام ته واوښت، رياستي نظام تر 2010م پورې پلى شو. په دغه وخت كې دوى دوه ولسمشره تجربه كړل. په 2010م كې غرب ته وفادار سياسيون قدرت ته ورسېدل، دوى وويل زموږ په ژوند كې ټولې شته ستونزې د رياستي نظام له كبله دي. نو ځكه دوى رياستي نظام په پارلماني تبديل كړ. په حقيقت كې دوى په خپل دغه كار سره خپله دروازه د روس ښكېلاكګرو پر وړاندې غربي ښكېلاكګرو ته

پرانیسته. دا یې ومنله چې د دې نظام په پلي کولو سره به پارلمان ډېر قدرت ولري او خلک به پرمختللي ژوند ته لاسرسی پیداکړي. په حقیقت کې د دغه امر موخه د پخواني غربي لړۍ دوام او د ولسمشر د قدرت ساتنه وه.

لکه څنګه چې وویل شول، د دغه هېواد د خپلواکۍ له وخته د قرغیز سیاسي نخبګان د ډموکراسۍ په پلمه د استعمار اصلي څېره ـ چې د پانګوالۍ د نظام په پلي کولو سره نړۍ کنټرولوي ـ پټه کړې ده. خلک له دغه نظام څخه ناخوښ دي، خو دولتونه د رژیم د څېرې په بدلولو او د اساسي قانون په اصلاح سره هغوی ته فریب ورکوي. په وروستیو 25 کلونو کې د دغه هېواد په اساسي قانون کې 25ځلې بدلون راغلی. نتیجه داده چې رژیم د دغه هېواد خلک پرله پسې له بدبختیو سره مخ کوي. د دغه هېواد معدنونه د کپیټالیستي ښکېلاکګرو لخوا غلا کېږي. زموږ نوري پانګې د بهرنیو کپیټالیستانو جیبونو ته لېږدول کېږي. زموږ زامن او لونې د څو پیسو په خاطر مهاجر کېږي او د بهرنیو کارمندانو د امر غلامان ګرځي. په دغه هېواد کې فساد، مهاجرت، بې کاري، فقر، ظلم او اخلاقي فساد اوج ته رسېدلی دی.

موږ د دغه اوامرو پر وړاندې ناتوان نه یو، ځکه اسلام لرو، چې د دغه نظام فاسد حاکمیت پای ته ورسوي او رېښې یې وچې کړي. که څه هم د دغه هېواد حاکم نخبه استازي په دغه اړه څه نه وايي؛ خو په دغسې حالت کې دغه کنفرانس واقعیت راښیي. دا حاکمان اړتیا نه لري چې د دغه هېواد د وګړو د ژوند واقعي ښه کولو په اړه له اسلامه څه ووايي، ځکه د دې کار پر ځای د اسلام پر وړاندې له کافرانو سره کار کوي، څو د خپلو غربي بادرانو رضایت حاصل کړي. دا حاکمان داسې کسان دي، چې د خپلو ښکېلاکګرو کافرو بادارانو پر پله یې پل ایښی دی. خالص اسلام ته افراطیت وايي او د اسلامي دعوت ملاتړو ته د افراطګرو لقب ورکوي. دوی د عقیدې ازادي، ډموکراسي او د منځلاري اسلام فکر، د میراثي اسلام تر نامه لاندې خپروي او خلک پرې بې لارې کوي. سربېره پر دې هڅه کوي، څو د ځینو عالمانو په وسیله سوچه اسلام له «ډموکراسي اسلام ده او اسلام ډموکراسي» مفکورو سره ګډ کړي.

هغه څه ته په پام سره چې وویل شول، د قرغیزستان ـ حزب التحریر تاسو د اسلام پر وړاندې د ډموکراسۍ په خدمت کې حاکمو نخبه ګانو ته خبر در کوو (څه چې کوئ لاس ترې واخلئ) دغه راز د قرغیزستان له ټولو وګړو غواړو چې خپلې اسلامي زده کړې زیاتې کړئ. ځکه اسلام یوازینی قدرت دی، چې کولای شي هغه ښکېلاک پای ته ورسوي، چې د ډموکراسۍ په چوکاټ کې پر مخ بیول کېږي او د کپیټالېزم د ظلم څراغ د تل لپاره بند کړي.

**د حزب التحریر- قرغیزستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: 02/1440**

**1440هق دربیع الثاني 15 مه**

**د 2018م د دسمبر 22مه**

**ژباړن: حبیب الله**